پوهنتون
۴ مخ

## ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسه

ابو ریحان د لوړه زده کړو موسسه د هغو محصلینو لپاره چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه دی یا له یوې کورنۍ دوه او یا هم څو محصلین دې موسسې ته د زده کړو لپاره ورځي، د پام وړ تخفیف په پام کې لري.




مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲٤مه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۱٤مه | ٦۹٥یمه ګڼه

# د سولې د چټکتیا هڅې؛

## افغان حکومت د مسکو او استانبول په کنفرانسونو کې ګډون ته په تیاریو بوخت دی



۳

## اژند: تر راتلونکي کال پورې په نورستان کې ۱۳۰ ښوونځیو ته ودانۍ جوړېږي



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت وایي چې په نورستان ولایت کې د ۱۳۰ ښوونځیو لپاره نوې ودانۍ جوړېږي.

د یاد وزارت ویاند فریدون اژند زیاتوي، چې اوسمهال د ۲۹ ښوونځیو د ودانیو کار پیل شوی دی. اژند ویلي: «اوسمهال د ۲۹ ښوونځیو د جوړېدو چارې دوام لري او په تدریج سره به هغه ۱۳۰ ښوونځي چې ژمنه یې شوې، د نورستان ولایت لپاره جوړ شي. هیله لرو چې په ۱۴۰۰ کال کې دا پروژه بشپړه او د نورستان د پوهنې څانګې ته وسپارل شي.»

د یاد وزارت د ویاند په خبره، د دغې پروژې لګښت نړیوال بانک ورکوي. اژند زیاتوي، چې اوسمهال په ټول افغانستان کې د ۲٦۴۷ ښوونځیو د ودانیو د جوړېدو کار روان دی.

د یادونې ده چې نورستان د هېواد په شمال ختیځ کې پروت هغه ولایت دی، چې د نورو برخو ترڅنګ پکې د ښوونې سکټور هم وروسته پاتې دی.

### د سولې فرصتونه؛ ضایع کول یې له ملت سره جفا ده
۲ مخ

### د شګو په بندونو د توپان مخنیوی ناشونی دی
۲ مخ

### افغان سوله؛ ایا د امریکا نوې طرحه به بریالۍ شي؟
۳ مخ

## واشنګټن پوسټ: بایډن غواړي له طالبانو سره په موافقې د خپلو پاتې سرتېرو ایستل وځنډوي

واشنګټن پوسټ امریکایي ورځپاڼې لیکلي، د بایډن حکومت غواړي چې له طالبانو سره په موافقې، له افغانستانه د خپلو پاتې سرتېرو ایستل وځنډوي.

د سرچینې په خبره، د بایډن حکومت په دې ډول هڅه کوي چې د یوځه نورې مودې لپاره هم په افغانستان کې پوځي حضور وساتي او په دې سره بین الافغاني خبرو ته زیات وخت ورکړل شي، تر څو افغانان په خپلو کې یوې هوکړې ته ورسېږي.

واشنګټن پوسټ دغه راز ویلي چې د بایډن دا پرېکړه به په افغانستان کې د جګړې ډګر نور هم ګرم کړي او طالبان به لا زیاتې سیمې تر خپل کنټرول لاندې راولي. د سرچینې په خبره، په افغانستان کې لا هم تر دوو نیمو زرو پورې امریکایي سرتېري مېشت دي، چې له طالبانو سره د ټرمپ د ادارې د شوې هوکړې له مخې، یاد پوځیان باید د روان کال تر مې میاشتې وتلي وي، خو د بایډن ادارې دغه پرېکړه ځنډولې ده.

د ورځپاڼې په باور، که څه هم طالبانو ته به دا سخته وي، چې له امریکا سره د سرتېرو ایستلو له هوکړې سره سره، بیا هم په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو د حضور دوام ومني، خو د ورځپاڼې په خبره، د بایډن اداره غواړي چې طالبانو ته د امتیازاتو د ورکړې له لارې پوځي حضور ته دوام ورکړي.

ملګري ملتونه:

## هدفي وژنې د جدي اندېښنې وړ دي، ژر تر ژره دې ودرول شي



۵ مخ

## یافته‌ها: شماری از قراردادهای تدارکاتی ریاست تهیه و تدارکات وزارت مالیه خیالی بوده است




یافته‌ها نشان می‌دهد که شماری از قراردادهای تدارکاتی ریاست تهیه و تدارکات وزارت مالیه از سال ۱۳۹۴ تا ۱۳۹٦ شفاف نبوده و حتا برخی از این قراردادها، خیالی بوده است.

بر بنیاد یافته‌های روزنامه‌ی صبح کابل، شماری از این قراردادها بدون «اسناد حمایه‌ای» است و سندی که نشان‌دهنده‌ی مصرف پروژه باشد، وجود ندارد. از سویی هم در برخی از قراردادها، طرزالعمل تدارکات نقض شده و حتا از شرکت‌های قراردادی جریمه‌ی تأخیری در اجرای پروژه گرفته نشده است. مدیریت ناسالم و نبود کار و ساز درست تثبیت نیازمندی، از مشکلات دیگری در این اداره بوده که سبب ضایع شدن میلیون‌ها افغانی دارایی عامه شده است.

ریاست تدارکات وزارت مالیه، قرارداد ارایه‌ی خدمات مشورتی حقوقی را با شرکت دلا پایپر (DLA Piper) به ارزش ۵۰۰ هزار دالر امریکایی به اساس وقت یا «Time base» از ۲۲ اکتوبر ۲۰۱٦ برای یک سال از منبع واحد عقد کرده است؛ اما پرداخت‌های پولی آن نشان می‌دهد که «انوایس‌ها»ی ارسالی این شرکت، بدون مهر و امضا بوده و قابل‌فهم نیست.

از سویی هم هیچ «سند حمایه‌ای»ای که نشان‌دهنده‌ی طی مراحل و تطبیق این پروژه باشد، وجود ندارد. نبود سند معتبر از اجرای این پروژه، شفافیت پروژه را زیر سوال برده و احتمال فساد در این پروژه را نشان می‌دهد.

بر بنیاد ماده ۴۵ قانون تدارکات، اسناد حمایه‌ای تدارکات از قبیل پیشنهادها، منظوری آمر اعطاکننده و گزارش‌های موجود باید در دوسیه هر قرارداد عقدشده به شکل منظم، تنظیم شود.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# د سولې فرصتونه؛ ضایع کول يې له ملت سره جفا ده

افغان حکومت تازه د استانبول او مسکو په غونډو کې د ګډون لپاره تیاری ښودلی دی. د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب تېره ورځ په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، چې د ملي مصالحې عالي شورا او بهرنیو چارو وزارت دغو دواړو کنفرانسونو ته د پلاوو د لېږلو پر سر بحث کوي او دا به ټاکي چې په کومه کچه پلاوی دغو غونډو ته ولېږي. بلخوا ځینو افغان سیاسیونو د امریکا د سولې له نوې طرحې او دغه راز له جوړېدونکو کنفرانسونو ملاتړ کړی دی.

د افغانستان د څلوېښت کلنې جګړې د پای ته رسولو لپاره ظاهراً تازه هڅې پیل شوې دي. د دې هڅو په سر کې امریکا ده. د امریکا نوي حکومت ویلي، چې دوی له ټولو ممکنو لارو د افغانستان د روانې کشالې د حل په لټه کې دي. دوی ښایي دې پایلې ته رسېدلي وي، چې د دوحې اوسنی بهیر ناکام دی او پر بدیلو لارو يې فکر کول په کار دي. له همدې امله يې د افغانستان د سولې په مسئله کې ملګري ملتونه هم ور ښکېل کړل او تر څنګ يې د سیمې له هېوادونو هم غوښتي چې د افغانستان د جګړې په ختمولو کې هڅه وکړي.

اوس داسې ښکاري چې امریکا غواړي د سولې پروسه له خپل انحصاره وباسي او نړیوال دې ته راوبولي چې دغه کشاله نوره حل کړي. امریکایي ډیپلوماتان پر دې کار کوي چې له ملګرو ملتونو سره په ګډه په استانبول کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ کنفرانس جوړ کړي. دلته بیا افغان سیاسیون او سیاسي محافل په بېلو بحثونو ګرم دي. ځینې افغان سیاسیون وايي، دا یوه ښه حللاره ده چې د اساسي قانون، اوسني یا راتلونکي حکومت او روان کړکېچ په اړه د نظر اختلافونه د نړیوالو په منځګړیتوب د افغانانو ترمنځ حل کړل شي، خو د افغان چارواکو په ګډون ځینې سیاسیون بیا په دې فکر دي چې دا به د بُن د کنفرانس په څېر یو بل ناکام کنفرانس وي، چې افغانستان ته به غمیزه راولي.

د دې ټولو هیلو او اندېښنو په منځ کې افغان سیاسیونو، طالبانو او افغان حکومت ته په کار ده چې د نړیوالو له لوري له رامنځ ته شوي فرصت ګټه پورته کړي. دا واقعیت دی چې افغان جګړه د کورني اړخ تر څنګ سیمه‌ییز او ان نړیوال اړخ هم لري او ډېر داسې لوري شته چې دلته د جګړې پای ته رسېدل نه غواړي، خو په دې منځ کې د افغان سیاستوالو او هغو کسانو ځیرکانه لوبه افغانستان ژغورلی شي، چې دلته په رښتیني توګه د جګړې د پای ته رسېدو غوښتونکي دي.

د افغانستان په سیاسي بهیرونو کې فعالو شخصیتونو، ګوندونو او ټولنو ته هم په کار ده چې دا ځل دې فردي ګټې نه پالي، د افغانستان لپاره دې رامنځ ته شوی فرصت مهم وبولي او د ټول هېواد او افغان ولس د ګټو لپاره دې له تعصب او ځانغوښتنې پرته له نړیوالو سره په ګډه د افغان جګړې د پای ته رسولو او یوه پیاوړي او پرمختللي افغانستان لپاره کار وکړي.

# د شګو په بندونو د توپان مخنیوی ناشونی دی

عبدالوحید وحید

موږ متأسفانه د ملت له منځ څخه راپورته شوي مشران نه لرو. له همدې امله مو له مشرتابه څخه د حمایت او مخالفت معیار له بدتر څخه د نجات په موخه د بد پلوي کول ګرځولی دی. پرون مو هم همدغه کار کړی دی. نن هم که حالت له اوس څخه د بدتر کېدو خوا ته ځي، له بد غني څخه به حتماً پلوي کوو، خو که ځوک د هیواد د اوسني بد امنیتي او سیاسي وضعیت د درک وړتیا ولري، نو یقیناً پوهیږي چې اوس د هوايي ګواښونو، نمایشي غونډو، احساساتي او جذباتي خبرو وخت نه دی؛ بلکې د سترو ملي ګټو ساتلو لپاره د سختو پرېکړو کولو، د مخالف افغان د ملګرتیا تر لاسه کولو، د ملي اجماع جوړولو او تر ټولو مهم دا چې د قرباني ورکولو وخت دی. د خاشاک، پولو او د شګو بندونو په اچولو باندې د توپان مخنیوی ناشونی کار دی. البته د توان ترکچې يې ځان او هیواد له اغېزو ژغورل ښه مشرتوب او ښه مدیریت دی.

ولسمشر غني ته د انتوني بلینکن لیک که څه هم ګواښوونکی، ویښوونکی او له ټولو نړیوالو نورمونو سره په ټکر کې دی، خو مونږ هم باید ومنو چې د سولې په تړاو زمونږ د دواړو خواوو مشرانو په ځانګړي ډول د ارګ مېشتو څرګندونې، نه واقعیتونو ننداري ته وړاندې کوي، نه د ولسي ارمانونو عکاسي کوي او نه هم نړیوالو اندېښنو ته د قناعت وړ ځواب وايي. څرګنده خبره ده چې موږ له تیرو څو لسیزو راهیسې د نړیوالې ټولنې ملاتړ ته اړتیا لرو او د اوړو بار يې ګرځېدلي يو، نو ځکه د بین الافغاني مذاکراتو د ناکامی له امله مونږ نړیوالو ته په زغرده د ځواب ورکولو لپاره نه خوله لرو او نه هم منطق.

له نښو نښانو داسې ښکاري چې امریکا پرېکړه کړې ده، چې له افغانستان څخه خپل ځواکونه باسي، خو داسې نه لکه شوروي اتحاد چې خپل ځواکونه وایستل؛ بلکې داسې چې ګټې يې خوندي وي او تر شا خپل هېواد ته بالفعل او بالقوه ګواښونه او ناورینونه پرې نږدي. که امریکا لکه څنګه چې وايي واقعاً په افغانستان کې د جګړو ختمولو لپاره هوډ لري، نو مونږ ته يې د تازه طرحې ردول نه؛ بلکې تایید پکار دی. که د امریکا په طرحه کې د ملي ګټو په تړاو ملاحظات ځای ولري، نو د رسنیو له لارې د ګواښ په ژبه نه، بلکې په څرګند ډول يې له امریکا سره مطرح کول اړین دي. امریکا پوهیږي چې د سولې لپاره د انعطاف په مورد کې ارګ یوازې پاتې دی. حتی د مصالحې شورا او وزیران هم د ارګ په شان فکر نه کوي او دا چې د سولې په هکله په ارګ مېشتو کې جدي ستونزه شته، نو ځکه يې ټول نورمونه او پرنسیپونه تر شا پرېښودل، د لیک خد او خال يې تېز، لهجه يې ترخه او د بهرنیو چارو د وزارت پر ځای يې نیغ په نیغه ارګ ته واستاوه.

راځئ د تېرو څلورو لسیزو په دوران کې د خپلو یو پربل پسې ماتو او ناکامیو څخه څه زده کړو. راځئ د خپل ملت مظلوم او محکوم ژوند ته د سوکالۍ راوړلو هڅه وکړو.

ایا د کمونیستانو، مجاهدینو، طالبانو او د ډیموکراسۍ په نوم د غني استبدادي ډوله حکومت مشترکات په خپله عنعنوي مذهبي ټولنه باندې کله د برچې او کله د تبلیغاتو په مټ پردی مفکورې، پردي تعبیرونه، پردی کلتور تپل او د واک د انحصار دوکتورین نه وو؟

ایا پورتنۍ ټولې ډلې تپلې د ولسي هیلو په تحقق کې مطلقاً ناکامې نه شوې؟

که د پورته یادو شویو لاملونو له امله د تېرو څو لسیزو حکومتونو ناکامۍ منو، نو اوس باید په جګړه کې دخیل اړخونه پوه شوي وي چې دلته له بهر څخه وارد شوي بدلونونه که اصلاحات هم وي، خو له ذهنیت جوړولو پرته د چلن وړ نه دي. د واک د انحصار فکر خوسا او فرسوده تګلاره ده. ډېره اړینه ده چې د دغه هېواد ټولې پرګنې، قومونه، ژبې، فکرونه او عقیدې د افغان په نوم سره راټول کړو او په دغه هېواد کې ګډ سوله ییز ژوند پیل کړو. له خپل ولس سره د تقابل او تصادم سیاستونه او تګلارې مو د نسکورېدو په حال کې ولیدې. د دې لپاره چې مونږ د عمل په ډګر کې د خپلو شخړو د هوارولو چل او هنر نه دی زده کړی او د تیرو څو میاشتو بین الافغاني مذاکراتو په ترځ کې مو د خپلو ستونزو د هواري لپاره خپله ناکامي عملاً ننداري ته وړاندې کړه، نو ولسمشر غني ته مو مشوره دا ده چې د امریکا د حکومت اوسنیو غوښتنو په هکله متزلزل او متذبذب دریځونه خپلول او احساساتي ویناوې کول د دې ملت او وطن په خیر نه دي او دغه ډول نسخې اوس کار نه کوي.

ځمکني حقایق او د وخت غوښتنې درک کړئ. تاسو ښه استاد یاست، ښه اقتصاد پوه یاست، ښه انګریزي مو زده ده او نسبتاً ښه لابي ګر یاست؛ خو تاسو زمونږ په عقیدوي او دودیزو مسایلو، قومي او کلتوري نزاکتونو باندې د پوهیدو وړتیا ثابته نه کړای شوه. تاسو د افغاني ټولنې په ذهني لومړیتوبونو او عقیدوي باورونو باندې له بشپړ معلوماتو تر لاسه کولو پرته د ډیموکراسۍ په نوم د غرب دود او کلتور تپلو ته ملا وتړله.

تاسو د اداري، مالي او اخلاقي فساد پر وړاندې مبارزې ته خپل پیاوړی هوډ ونښود. تاسو له حلیفانو سره د مشارکت پرنسیپونه ونړول او نه مو هم له حریفانو سره ملي معیارونه وساتل او نه مو هم حکومتي او اداري تعاملاتو ته ژمنتیا وښوده. تاسو په ډیموکراسۍ کې استبدادیت رواج کړ، تاسو پر اساسي قانون باندې څو څو ځله معاملې وکړې. تاسو ته د ژمنو ماتول عادي خبره ده. ایا پوه نشوی چې په کابل کې ناستې څو سوه ښځې د افغانستان د شپاړس میلیونه ښځو استازیتوب نشي کولای؟

اوس تاسو اړ یاست چې په واک کې د پاتې کېدو لپاره نه، بلکې د ملت او هیواد د لوړو ګټو لپاره لابي وکړئ. نړیوالو ته په واک کې د پاتې لپاره دلایل مه وړاندې کوئ، بلکې د خپل هېواد روڼ سبا ته ورځخه ژمنې واخلئ. ستاسو په مشرۍ له طالبانو سوله ناشوني ده او دغه هېواد سولې ته د اکسیجن په کچه اړتیا لري. دغه ډول فرصتونه بیا بیا نه راځي.

زه منم چې کیدای شي طالبان له تاسو سره د امریکا له حمایت پرته د ارګ په نیولو بریالی نشي، خو هیواد به د ماتېدو په ځنډه او د پردیو نیابتي جګړو ډګر وي. ولس به هره ورځ سلګونه جسدونه خاورو ته ښکته کوي، نو ستاسو عزت، وقار او درنښت به څه وي؟

تاسو کله د قبل الوقت ټاکنو خبره کوئ!

ایا په یاد لری چې تېرې دوې دورې ټاکنې څومره پاکې، رڼې، عامې او شفافې وې؟

د ټاکنو کمېسیونونو رییسان او غړي اوس چېرته دي؟

ایا تاسو په خپله د ټاکنو پر پایلو باندې دواړه ځله د معاملې کولو له امله د همدغو ټاکنو مشروعیت او اعتبار تر جدي پوښتنو لاندې رانه وست؟

په لومړي ځل د جانکیري او په دویم ځل د پامپیو فارمولا منل د ټاکنو په اعتبار کې څه پرېښودل؟

ایا تاسو چې عبدالله ته د منلو وړ ټاکنې تر سره نکړای شوې، د طالب په شان ځواکمن مخالف لوری به څنګه تر خپل مشرتابه ټاکنو لاندې د پایلو منلو ته وهڅوی؟

**ښاغلی ولسمشر!**

موږ منو چې د سولې لپاره د طالبانو لخوا هم مبهم او مجهول الفاظ کارول کېږي. دوی فکر کوي چې د امریکا له وتلو وروسته به وکولای شي په اساني سره کابل ته ننوځي، خو دا به يې سهوه وي. له تېرو څو لسیزو راهیسې ډېر خلک ارګ ته ننوتل؛ خو حکومت يې ونه کړای شو او طالبان به هم مستثنی نه وي.

زه مو اوس هم د دغه هېواد لپاره چوپړتیاوو ته اړتیا وینم، خو د ولسمشر په توګه مو زمونږ ارزښتونه او سټندرډونه له پښو لاندې کړل. باورونه مو وخوړل او په دغه څوکۍ مو خپله وړتیا ثابته نه کړای شوه. بله دا چې مونږ ته سوله له تاسو څخه ډېره اړینه ده.

راځئ ټوکې مه کوئ، بانې مه جوړوئ، باید پوه شوي یاست چې وخت اوس ستاسو په اشارو نه چلېږي، شهامت به مو دا وي چې د هېواد او ولس د کړاونو کمولو لپاره همدا اوس د نظام د خوندیتوب په شرط د واک پرېښودلو ته تیاری وښیئ او له نړیوالو څخه ژمنه واخلئ، چې هیواد به مو نور د نیابتي جګړو ډګر نه وي.

## مصالحې شورا: ډېر ژر به د امریکا د نوې طرحې د ارزونې چارې بشپړې شي

د مصالحې د عالي شورا مرستیال مولوي عطاالرحمن سلیم وايي، د دې شورا له خوا یوه مؤظفه شوې کمېټه د امریکا د طرحې په اړه خپلې ارزونې ته دوام ورکوي.

نوموړي ویلي چې دا کمېټه ۱۵ غړي لري او د امریکا د طرحې په اړه به ډېر ژر خپله ارزونه د ملي مصالحې د عالي شورا مشرتابه کمېټې ته وړاندې کړي.

هغه زیاته کړې: «هیله من یم چې موږ یوه جمع بندي ولرو او په یوې یا دوو نورو ورځو کې به چې د ملي مصالحې د عالي شورا د مشرتابه کمېټې غونډه جوړېږي، خپل واحد لید لوری ولرو. که خدای غوښتي وه، له دې فرصته چې لرو يې د امنیت په ګټه او د افغانستان د هوساینې په ګټه



ښه استفاده وکړو.»

دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي په دې وروستیو کې له افغان حکومت، د دغه هېواد له سیاسي څېرو او د طالبانو له استازو سره د واشنګټن یوه طرحه شریکه کړه.

د دې طرحې له مخې، تر هغو چې د نوي اساسي قانون په اړه موافقه کېږي او انتخابات ترسره کېږي، مؤقت حکومت به د افغانستان د اوسني حکومت ځای ونیسي.

بلخوا ولسمشر غني بیابیا د مؤقت حکومت له جوړېدو سره مخالفت کړی او وايي چې یوازې د انتخاباتو له لارې د واک لېږد ورته د منلو دی. په همدې حال کې د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زاخارووا په مؤقت حکومت کې د طالبانو د ګډېدو په اړه څرګندونې کړې دي.

نوموړې په یوه خبري غونډه کې ویلي: «د یوه مؤقت ائتلافي حکومت د جوړېدو لپاره باید په خپله افغانان د سولې خبرو په ترځ کې پرېکړه وکړي. په عین وخت کې دا یادونه کوو چې د افغانستان په سوله‌ییز سیاسي ژوند کې د طالبانو د ادغام په موضوع کې به یوه مؤقته او هر اړخېزه اداره، منطقي حل لاره وي.»

دا په داسې حال کې ده چې روسیه په پام کې لري چې د رواني اونۍ د پنجشنبې په ورځ د افغانستان د سولې په اړه په مسکو کې د یوې غونډې کوربه‌توب وکړي.

# افغان سوله؛ ايا د امريکا نوې طرحه به بريالۍ شي؟

لیز ډوسېټ او محفوظ ذبيدي؛ بي‌بي‌سي

د امريکايي ولسمشر جو بايډن اداري لخوا د افغان سولې لپاره پلان شوی «لوی کار» د نيوکگرو له پوښتنې سره مخ دی او ډېر کسان يې ببړنی جوړجاړی بولي. میلیونونه افغانان يې هم هيښ کړي چې دا به يې هېواد کې بې پايه جگړه پای ته ورسوي او که به يې بدتره کړي.

پلازمېنې کابل ته د افغان سولې لپاره د امريکا د ځانګړي استازي زلمي خليلزاد تر وروستي سفر وروسته، د نوموړي له دفتره داسې طرحه رسنيو ته ووته چې ظاهراً د سولې نوی تړون ښکاري.

دغه اته مخيز ليک چې بي‌بي‌سي تر لاسه کړی او تر څنگ يې افغان ولسمشر محمد اشرف غني ته د امريکا د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن درې مخيز ليک، يو سياسي توپان جوړ کړی دی.

ښاغلي بلېنکن خپل ليک کې ويلي، امريکا نه غواړي چې افغان حکومت او طالبانو ته شرطونه کېږدي، بلکې دواړه لوري د دې وړتيا لري چې د سولې پر لور «ببړني گامونه» پورته کړي.

خو د افغان ولسمشر لومړي مرستيال امرالله صالح پر دغه پلان سختې نيوکې وکړې او ويې ويل: «افغانستان به هېڅکله هم دا امرانه او تپلې سوله ونه مني.»

هغه زياته کړه: «دوی د خپلو پوځونو پرېکړه کولی شي، نه د افغانستان د خلکو.»

خو د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد بي‌بي‌سي ته ويلي چې دوی دا طرحه «لا هم مطالعه کوي.»

هغه پر دې هم ټينگار وکړ چې طالبان هيله لري امريکا د تېر کال دوحې تړون ټول شرطونه پوره کړي يا په بله مانا، دا چې د امريکا په مشرۍ د ناټو پاتې لس زره سرتېري د سږنۍ مۍ مياشتې تر لومړۍ نېټې له افغانستانه ووځي.

د امريکا دا لوی کار تر «ابي سمان» پورته الوت ښيي او د يو تر ټولو لوی کړکېچ د هواري لپاره يوه تر ټولو ستره نظريه ده.

خو له افغانستانه د تاوتريخوالي له کمېدو پرته له دوو لسيزو وروسته وتل هلته له ژوند او مرگ پرته بله مانا نه لري. باعزته کلمه هم دې بوړنوونکې جگړه کې بله نوې کلمه ده؛ د امريکا باعزته وتل؛ د افغانانو لپاره باعزته سوله.

دوحه کې د افغان سولې خبرو کې د حکومت د مرکچي پلاوي غړی نادر نادري وايي: «د يوې باعزته سولې لپاره پکار ده موږ هره هغه لار ولټوو، چې له مخې يې د حکومت د ولسواک سيستم په گډون، بنسټيز ارزښتونه او حقونه خوندي کړو.»

د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړی استازی زلمی خليلزاد تېره اونۍ کابل ته د وړانديزونو له نوي احساس سره ورسېد. د هغه شتون او د طرحې مسودې په پلازمېنه کې د بدرنگه امنيتي دېوالونو تر شا د واکمنو ښايسته کوټو کې سياسي سپرغۍ بلې کړې.

دا هر څه فکر پر يوې داسې نکتې متمرکزوي چې افغانستان د سولې او جگړې تر منځ د پاڼ پر ژۍ ولاړ پکې ښکاري.

د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي تېره اونۍ بي‌بي‌سي ته وويل: «د چټک حرکت او د سختې اړتيا ډېر لوی احساس دی.»

د هغه په خورا پياوړي استوگنځي کې تر پخوا ډېره گڼه گوڼه ده. د ښاغلي بلېنکن ليک کې د يووالي او شموليت خبره شوې او د کرزي هم همدا غوښتنه ده.

پخواني جگړه سالاران چې د اشرف غني لخوا له واکه لرې شوي، اوس بيا د لا ښه والي يا ډېر بدوالي لپاره رامخې ته کړل شوي دي. ځينې چې د خپل راتلونکي او بخت تضمينولو لپاره تر طالبانو رسېدلي، وايي، د نفاق پايله به گډوډي او پرځېدل وي.

تېره مياشت ولسمشر غني وويل، سختې پرېکړې او قرباني په مخ کې لري. کله چې د بي‌بي‌سي خبريال د حکومت شريکولو لپاره د خليلزاد د پخواني پلان په هکله وپوښت، ويې ويل: «دا داسې ده لکه څوک چې د مېز شاته ناست وي او خوبويني.»

نو ولسمشر غني چې تر اوسه د ټاکنو له لارې د واک پر لېږد ټينگار کوي، دا نوې طرحه به ومني؟

يو افغان سياستوال وايي: «که ښوونځي ته نه ځې، ښوونځي ته به يووړل شې.»

يا په بله مانا، ولسمشر غني به بله لار ونه لري.

خو ايا جنگسالاران به زړه دښمنې د سولې لپاره پرېږدي؟ ښايي داسې وشي، خو «له وينو ډک زړونه» به ولري.

بل متل دی چې «زاړه تربرونه ښايي تر ډېره چوپ پاتې نه شي.»

نوي پلان کې څه دي؟

نوی پلان درې خبرې لري. د راتلونکي افغان دولت او اساسي قانون لپاره لارښود اصول لري. داسې شرايطو باندې هوکړه چې د دوامداره او عادلانه هوکړې لپاره انتقالي دوره کې هېواد اداره کړي. وروستۍ او ډېره مهمه دا چې دايمي او ټوليز اوربند باندې سلا وشي.

خو دې طرحه کې غوراوي او تش ځايونه هم شته، لکه د انتقالي حکومت موده تشه پرېښودل شوې ده. د اجرايي اداري لپاره دوه امکانه وړاندې شوي دي.

يوه اوسني حکومت ته ورته چې ولسمشر او مرستيالان به لري او بله هم چې لومړی وزير به لري. د بهير د چټکتيا لپاره امريکا د ټولو خنډونو لرې کولو او ملاتړ تر لاسه کولو هوډ لري.

ملگري ملتونه چې تر اوسه خنډې ته کړل شوي وو، مرکزي رول ته بېول کېږي چې دې بهير ته لا ډېر نړيوال مشروعيت ورکړل شي او هم د افغانستان هغه گاونډيان په يو مېز سره کېني، چې دغه هېواد کې اوږدمهالې لاسوهنه کوي.

د بلېنکن ليک کې هم ترکيه کې د لوړې کچې د ناستې خبره شوې، چې پکې ټول جنگي لوري سره راټول شي. د سولې تړون لپاره په اته مخيزه طرحه کې د هر چا لپاره يو څه شته. طالبان به د اسلامي شريعت د داسې سترې شورا وړانديز کوي چې اسلامي لارښوونې او سپارښتنې به برابروي او دا په لنډ ډول هغه څه دي، چې طالبانو د «سوچه اسلامي حکومت» وړاندوينه کوله.

د ښځو حقونو ډلې به يې پر لومړي مخ ووينې چې «راتلونکی اساسي قانون به د دوی د حقونو خونديتوب تضمينوي.»

ځينې وايي چې يوازې خبرې بسنه نه کوي، دوی زياتوي، دا ښځې او نجونې دي چې ژوند يې شلو کالو کې بدل شوی. حقيقت دا دی چې که محافظه‌کار طالبان واکمن وي او که نه، پر ښځو اوس هم محدوديتونه ډېر دي او په ميليونونو افغانان به چې زړونه يې له غم ډک دي، د هغه څه پر لور د پرمختگ غوښتنه کوي چې دا کاغذونه يې د «انتقالي عدالت لپاره ملي پاليسي» بولي، که څه هم دوی پوهېږي چې افغانستان کې د تاريخ درسونه د دغه ډول عدالت په اړه ډېر مثبت نه دي.

د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسون مشره شهرزاد اکبر وايي، دايمي سوله راوستل د افغانانو مسووليت دی، خو د امريکا په مشرۍ نړيواله ټولنه د دې کړکېچ شريکه وه او د خپلو سرتېرو خوندي ستنولو پورې يې مسووليت نه ختمېږي.

هغه زياتوي چې نړيواله ټولنه لا هم د افغان کړکېچ پر دواړو لورو نفوذ لري او د کړکېچ هواري لپاره يې رښتينو خبرو ته سره جرگه کولی شي. خو داسې خلک هم شته چې په دې نويو خبرو پورې ډېر زړه نه تړي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت پخوانی ډيپلوماټ او نړيوال کړکېچ گروپ کې د اسيا برخې مشر لورل مېلر وايي، د دې پلان يوازينۍ گټه دا ده چې که اوربند وشي. هغه زياتوي: «خو که کمزوری ماتېدونکی انتقالي جوړښت وپرځي، چې ډېر امکان يې هم شته، نو بيا اوربند دوام نشي کولی.»

سوله تر بل هر وخت ډېره اجنډا کې ده، خو جگړه هم شته. دواړه لوري د ټول دوبي د عملياتو خبرې کوي. د سولې هڅو کې يو ښکېل افغان وايي، که دا پلان کار وکړي، نو يوه غير عادي پېښه به وي.

خو داسې هېواد کې چې له هرڅه سره ژوندي وي، لوی کار او غير عادي پېښه له امکانه لرې نه ښکاري. خلک زړ تر زړه د بې پايه جگړې پای غواړي.

# د سولې د چټکتيا هڅې؛

## افغان حکومت د مسکو او استانبول په کنفرانسونو کې گډون ته په تياريو بوخت دی



افغان حکومت د سولې په تړاو په جوړېدونکو غونډو کې د خپلو استازو د گډون خبره کړې ده. په نږدې راتلونکي کې به په مسکو او استانبول کې د افغانستان د سولې په تړاو غونډې جوړې شي چې طالبان او افغان حکومت هم بايد گډون پکې وکړي.

طالبانو وار د مخه په دغو غونډو کې د گډون لپاره تياری ښودلی، خو افغان حکومت وايي چې دوی پر دې بوخت دي چې په کومه کچه پلاوی دغه غونډو ته ولېږي. بلخوا پخواني ولسمشر حامد کرزي بيا ويلي، چې د افغان سولې لپاره د امريکا نوې طرحه مهمه ده او بايد رامنځته شوی فرصت ضايع نه شي.

وروسته له هغې چې د دوحې د سولې بهير په ټپه ودرېد، امريکا دا پرېکړه وکړه چې له نوو لارو د افغانستان د سولې بهير چټک کړي. په همدې تړاو د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خليلزاد کابل، دوحې او اسلام اباد ته سفرونه وکړل او تر څنگ يې د امريکا د بهرنيو چارو وزير افغان مشرانو ته يو ليک واستاوه. د امريکا په نوو اقداماتو کې د سولې يوه نوې طرحه شامله ده چې افغان حکومت يې په اړه د نظر اختلاف لري. ولسمشر غني وار د مخه دغه طرحه يوازې پر کاغذ ليکل شوي خيالات بللي، خو د ملي مصالحې عالي شورا بيا وايي چې دا طرحه د بحث وړ ده او افغان سياسيون بايد ورباندې خبرې وکړي.

پخواني ولسمشر حامد کرزي بيا په دې منځ کې ويلي، چې افغان سولې ته ښه فرصت رامنځ ته شوی دی. د ده په خبره، د امريکا نوې طرحه په افغانستان کې د قانون اصلاح، سولې او ثبات ته زمينه برابروي.

پخواني ولسمشر حامد کرزي دا هم ويلي چې د سولې نوې طرحه په افغانستان کې د دايمي ثبات زمينه برابروي او بايد دا فرصت ضايع نه کړل شي. نوموړي له اسوشيټېډ پرېس سره په خبرو کې ويلي: «د امريکا دا طرحه له جگړې سترې ولس د ټاکنو په لور بيايي، د ښځو او لږکيو حقونه خوندي کوي، اساسي قانون کې سمون ته لار برابروي او د لنډمهالې اداري وړانديز کوي».

حامد کرزی لومړنی مخور افغان سياستوال دی، چې د دې هوکړې ملاتړ يې کړی او په اړه يې خپل دريځ روښانه کړی دی. بلخوا بيا افغان حکومت په دې لټه کې دی، چې په دې اړه له افغان سياسيونو سره خبرې وکړي او خپل دريځ پياوړی کړي. ولسمشر تېره اونۍ د سياسي گوندونو استازي رابللي وو او له دوی سره يې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ليک، د سولې نوې طرحې او د سولې په اړه د جوړېدونکو کنفرانسونو پر سر خبرې کړې وې. ارگ دا هم ويلي وو، چې دغه ډول غونډې به ادامه پيدا کوي.

د افغانستان د ملي امنيت شورا سلاکار بيا تېره ورځ په خپلو څرگندونو کې د مسکو او استانبول په غونډو کې د گډون خبره کړې ده. حمدالله محب تېره ورځ په يوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې د سولې په اړه د نړيوالو او سيمه‌ييزو هېوادونو هڅو ته په درنه سترگه گوري او تمه لري چې افغانستان ته دايمي ثبات له دې لارې راوستل شي. حمدالله محب دغه راز د استانبول او مسکو د راتلونکو غونډو په اړه وويل چې د بهرنيو چارو وزارت او د ملي مصالحې عالي شورا اوس پر دې کار کوي، چې په دغو غونډو کې د گډون لپاره په کومه کچه پلاوي د گډون لپاره واستوي. د ده په خبره: «موږ د ترکيې او مسکو په ناستو کې گډون کوو، د بهرنيو چارو وزارت او د روغې جوړې عالي شورا په دې تړاو کار کوي چې معلومه کړي په کومه کچه د نورو هېوادونو او طالبانو چارواکي په دغو غونډو کې برخه اخلي او د هغې په اساس بيا وروسته موږ خپل هيئت ټاکو».

ټاکل شوې چې د روانې مارچ مياشتې په ۱۸مه په مسکو کې د افغان سولې په تړاو کنفرانس جوړ شي او تر هغې وروسته به په استانبول کې د ملگرو ملتونو په کوربه‌توب د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ کنفرانس جوړېږي. افغانان او نړيوال تمه لري، چې دغه ډول کنفرانسونه وکړی شي په افغانستان کې د کلونو اوږده جگړه پای ته ورسوي او د دايمي ثبات سبب شي.

ملگري ملتونه:

# جگړو او قحطۍ په يمن کې بشري ناورين رامنځته کړی دی

ملگري ملتونه وايي، چې جگړې او قحطۍ په يمن کې لوی بشري ناورين رامنځته کړی دی. ياد سازمان د سعودي په مشرۍ له ائتلاف او حوثيانو غوښتي چې د بشري مرستو په پار دې ببړنی اوربند وکړي.

بلخوا د امريکا متحدو ايالتونو ويلي، چې په يمن کې د حوثيانو تر کنټرول لاندې سيمو ته يې ببرته خپلې بشري مرستې پيل کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د مخکيني ولسمشر ډونالډ ټرمپ اداري د حوثيانو تر کنټرول لاندې سيمو ته بشري مرستې بندې کړې وې او ويلي يې وو چې ياغيان له دغو مرستو گټه اخلي.

د امريکا متحدو ايالتونو له ۲۰۱۹راپه دېخوا له يمن سره څه باندې ۱.۵ميليارد ډالره بشري مرستې کړې دي. په همدې حال کې د ولسمشر بايډن يوه ځانگړي سلاکار تم ليندرکينگ ويلي، په داسې حال کې چې د يمن د جگړې ختمولو لپاره د سيمې په کچه ډيپلوماتيکې هڅې روانې دي، حوثيان په جگړې ډېر تمرکز کوي، چې ډېرې سيمې ونيسي.

نوموړي ويلي له بدغه مرغه چې حوثيانو د مرکزي ولايت مارب نيول خپل لومړيتوب گرځولی، چې د تعجب خبره ده. هغه زياتوي چې حوثيانو ته د اوربند وړانديز شوی و او ترې غوښتل شوي وو چې مثبت ځواب ووايي.

د يادونې ده چې د امريکا حکومت يوه مياشت مخکې اعلان وکړ، چې په يمن کې د سعودي په مشرۍ د ائتلاف د پوځي عملياتو ملاتړ نه کوي. د بشري حقونو ځينې سازمانونه ياد ائتلاف تورنوي، چې په ملکي سيمو بمبارۍ کوي. د امريکا د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ حکومت بيا د سعودي عربستان په مشرۍ د ياد ائتلاف ملاتړ کاوه. د يادونې ده چې حوثي ياغيانو د ايران په مرسته په ۲۰۱۴ز کال کې د يمن پېژندل شوی او رسمي حکومت لېرې کړ او مرکز صنعا يې ونيوله. له هماغې را وروسته د دغې ډلې پر ضد د سعودي په مشرۍ د ائتلاف عمليات روان دي چې پر حوثيانو سربېره پکې گڼو ملکيانو ته هم مرگ ژوبله اوښتې ده.


بلخوا د وروستيو شمېرو پر اساس په يمن کې د کورنيو جگړو له کبله څه باندې ۱۰۰ زره کسان وژل شوي او تر درې ميليون زيات نور بېځايه شوي دي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسي پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

- لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
- ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د زیمنې برابرول




بدبختانه د ۱۹۸۹ په ډسمبر کې د مفتي صېب د لور اختطاف کشمیر سره بېل کړ. دې کار کشمیري ځوانانو داسې زړور کړل، چې د هند حکومت خپلو غوښتنو ته تسلیم کړي. کشمیریان پر دې باور شول چې دوی ښایي آزاد شي. دوی خپل ساعتونه نیم ساعت شاته کړي وو.

جنرال صېب هم ومنله چې آن  پاکستان هم حیران و، چې دا کار څومره ژر وشو. پاکستان نور هم صحنې ته را ننوت او حزب‌المجاهدین یې راپورته کړ.

سربازگیري په کشمیر کې ختمه نه شوه. ترهګري د کشمیر یوه برخه شوه. په ډېرو قضیو کې به پر موږ تور پورې کېده.

د JKLF او حزب‌المجاهدین تر رامنځته کېدو وروسته ترهګري د پیر پنجال تر سویل جمو پورې ورسېده. دې کار موږ په تشویش کې واچولو.

وروسته بیا نور تنظیمونه د جیش محمد، لشکر طیبه او نورو په نومونو چې وخت په وخت به یې نومونه بدلېدل، راپیدا شول. هلته ډېرې بدې پېښې هم وشوې، لکه د حضرت بلال کلابندي، د شورا پر ودانۍ او د سیاحت پر مرکز حملې او نورې ډېرې بدې پېښې. د وخت په تېرېدو د ترهګرۍ بڼه هم بدله شوې ده. په لومړیو کې ازاد وو، همدغو ځوانانو په کوز سرینګر کې ګزمې کولې. له همدې کبله رابین رافاییل  ویلي و، چې کشمیریان ازادي اخیستونکي جنګیالي دي، نه ترهګر. دا هم باید له یاده ونه باسو چې امریکایان د الفران له اختطافونو وروسته غوسه شول چې پنځه بهرنیان یې تښتولي وو. له یوه څخه یې سر پرې کړی و، یو له زندانه تښتېدلی و، درې ورک شول.

خو اوس ترهګري هم په پټه کېږي او څوک نشي ویلی چې ترهګر څوک دی؟ له ۲۰۱۵ کال راپدېخوا موږ له ۴۰ تر ۵۰ پورې ځوانان وینو چې ځان را څرګندوي. دغه ځوانان پر خپلو کړنو ویاړي. لکه ازادي اخېستونکي جنګیالي.

د برهان واني غونډې دغه ځوانان په فېسبوک کې هم شته دي. په کشمیر کې هره ورځ یو څه پېښېږي، خو څه چې زموږ غوسه را پاروي هغه پر پوځي ځایونو بریدونه دي،  یا دا وېره چې همدا ترهګر به تر پنجاب پورې ورسېږي، لکه اوړي، پټان کوټ او ګورداسپور ته چې لاړل.

موږ لومړی ددې کار پړه پر پاکستان ور اچوو او بیا د مرستې غوښتنه ترې کوو، خو دا چې موږ هېڅ همکاري نه سره کوو او آن اړیکې نه سره لرو، موږ یوازې ور پاتې کېږو. زموږ لوری د همدې ستونزې د لرې کولو لپاره مختلف اندونه لري.

په پاکستان یا کشمیر کې تر جګړې غوره لار نشته. موږ داسې سخت دریځي او تیوریسنان لرو چې وایي، که مذاکره کوئ، باید د قوت له نقطې یې وکړئ. مانا دا چې موږ به هېڅکله هم خبرې ونه کړو، ځکه چې زموږ قوت چېرته دی؟ کله چې هر څه سم وي هم خبرې نه کوئ او کله چې هر څه خراب وي هم خبرې نه کوئ.

سېنها: د ممبیي بریدګر خو ازادي اخیستونکي جنګیالي نه وو؟

دولت: نه، ازادي اخېستونکي جنګیالي د ۱۹۹۰ لسیزې تر لومړیو ختم شول. همدا ډول بریدونه د وېرې د رامنځته کولو او تاوتریخوالي ته د دوام ورکولو لپاره وي. ته هم سم وایې، د ممبیي د ۲۰۰۸ کال برېدونه پاکستان او لشکر طیبه ته منسوب شوي دي.

سېنها: داسې ځوانان هم شته، چې د ګجرات د ۲۰۰۲ کال له الې‌ګولې متاثر شوي دي. هندي مجاهدین له همدې وروسته را پیدا شول. دوی ته له یوې او بلې خوا مرستې راتلې او دوی نور هم هڅول کېدل.

دولت: څه چې مسلمانانو په ګجرات کې وکړل غبرګونونه یې هم درلودل. دا چې هندي مجاهدین د ګجرات له الې‌ګولې وروسته پیدا شول او که د بابري مسجد تر تخریب وروسته، دا یو ګومان دی. خو ځینې ځوانان پاکستان ته لاړل. کله کله به مو اورېدل چې دوی ته د کراچۍ بنوریه مسجد کې روزنه ورکول کېږي او دې ډول کارونو ته هڅول کېږي.

تر ټولو تازه، تازه داعش  دی، چې په ټوله  نړۍ یې اغېز کړی دی، اروپا یې تر بل هر ځای ډېره اغېزمنه کړې ده. موږ هم کله کله په هند کې د داعش په اړه خبرې کوو. خو د هند غونډې له یوه لوی هېواد څخه که ٦۰ یا ۷۰ ځوانان عراق او سوریې ته لاړ شي، هېڅ دي. دا کومه لویه ستونزه نه ده.

له دومره تاوتریخوالي سره، سره کشمیریان داعش ته نه دي ورجذب شوي. ښایي شنه بېرغونه له تورو بیرغونو سره یو ځای شي، خو دا کار له داعش سره ژمنتیا نه څرګندوي. هندي مسلمانان ارام دي؛ منطق لري، منځلاري دي او په خرابو کارونو کې ګډون خوند نه ورکوي. دوی دې ته ترجیح ورکوي چې له همدا ډول الې‌ګولې ځان وباسي. خو اوس افراطیت د ودې په حال کې دی، ښایي لامل به یې زموږ پالیسي وي. په ځانګړې توګه جماعت اسلامي د ودې په حال کې دی.

**دوام لري...**

# ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسه چې په کابل ښار کې موقعیت لري، د ۱۳۹۳ کال په پسرلي کې یې د دریو پوهنځیو او شپږو ډیپارټمنټونو په درلودو سره پر فعالیت پیل وکړ.

د ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد او د یادې موسسې د تضمین کیفیت کمېټې مشر، شاه ولي راسخ په وینا، دغه موسسه درې پوهنځي (حقوق او سیاسي علوم، اقتصاد او انجنیري) لري. د نوموړي په خبره، هېره دې نه وي چې د ۱۳۹۷ کال تر پسرلي پورې د ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې په امتیاز او مالکیت کې ځینو استادانو هم ګډون درلود، خو له یادې نېټې وروسته د ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې امتیاز په ولسي جرګه کې د بلخ د خلکو استازي، عباس ابراهیم زاده ته وسپارل شو.

د ښاغلي راسخ په وینا، ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسه په خپلو دریو پوهنځیو کې شپږ ډیپارټمنټونه لري. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې د قضا او څارنوالۍ او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټونه، اقتصاد پوهنځی یې د ادارې او تجارت او تجارتي اقتصاد ډیپارټمنټونه او انجنیري پوهنځی یې د سېول انجنیرۍ او برق انجنیرۍ ډیپارټمنټونه لري.

ښاغلي شاه ولي راسخ زیاته کړه، ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسه په ټوله کې شاوخوا ۲۵۰۰ محصلین لري، چې له دې ډلې یې له ۳۵ تر ۴۰ سلنه پورې ښځینه محصلینې او پاتې نور یې بیا نارینه محصلین تشکیلوي.

ښاغلی راسخ همدا راز وایي، دوی تر دې دمه له خپلو شپږو ډیپارټمنټونو څخه په څلورو دورو کې فارغین ورکړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

د ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې یاد مسوول وایي، دوی هر کال خپلو دریو پوهنځیو ته د عمومي او متفرقه کانکور ازموینو له لارې تر ۵۰۰ پورې نوي محصلین جذبوي. نوموړي زیاته کړه چې د ۱۳۹۸ کال د خزاني کانکور او د ۱۳۹۹ کال د پسرلني کانکور ازموینو له لارې یې په هره یوه کې لږ تر لږه له ۵۳۰ تر ۵۴۰ پورې نوي محصلین جذب کړي دي.

ښاغلی راسخ همدا راز زیاتوي، ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسه خپلو محصلینو ته ځانګړی تخفیف په پام کې لري. د نوموړي په وینا، له کله نه چې د یادې موسسې د امتیاز حق ښاغلي عباس ابراهیم زاده ته ورکړل شوی دی، د یادو فردي تخفیفونو سربېره داسې یو عمومي تصمیم ونیول شو چې پر اساس به یې بېوزله او کمزورو اقتصاد لرونکو محصلینو ته ځانګړی تخفیف ورکول کېږي. نوموړي زیاته کړه، مخکې له دې چې د یادې موسسې مسوولیت ښاغلي ابراهیم زاده ته وسپارل شي، د انجنیرۍ پوهنځي د هر سمیستر فیس له ۱۸۵۰۰ څخه تر ۲۲۰۰۰ افغانیو پورې او د حقوقو او سیاسي علومو او اقتصاد پوهنځیو د هر سمیستر فیس له ۱۲۰۰۰ څخه تر ۱۴۰۰۰ افغانیو پورې و، خو د ښاغلي ابراهیم زاده له پالیسۍ او پرېکړې سره سم، د انجنیرۍ پوهنځي د هر سمیستر فیس له ۱۸۵۰۰ څخه ۱۰۵۰۰ او د اقتصاد او حقوقو پوهنځیو فیس هم له ۱۲۰۰۰ څخه ۸۰۰۰ افغانیو ته را کم کړل شو، څو محصلین وکولای شي په یاده موسسه کې خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړي.

ښاغلي شاه ولي راسخ زیاته کړه، ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسه د لوړو زده کړو وزارت له لایحې سره سم په دوو ټایمونو کې خپلې درسي چارې پر مخ بیایي، چې یوه یې سهارنۍ او بله یې هم ماښامنۍ یا د شپې دوره ده.

ښاغلي راسخ وویل، دوی د ابو ریحان په لوړو زده کړو موسسه کې مجهز کتابتون لري چې تر ۵۰۰۰ جلده پورې تخصصي او د پوهنځیو اړوند کتابونه پکې دي او پر دې سربېره شاوخوا ۱۲۰۰۰ جلده الکترونیکي کتابونه لري، چې د یادې موسسې محصلین کولای شي په انلاین بڼه ترې ګټه واخلي او خپل د اړتیا وړ معلومات ترې تر لاسه کړي.

د ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي یاد استاد زیاتوي، چې دوی په هېواد کې د ننه له ډېرو پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو سره نېکې او اکاډمیکې اړیکې لري او د ډېرو علمي موخو لپاره یې تفاهم‌لیکونه ورسره لاسلیک کړي دي، خو د ځینو ستونزو پر اساس تر اوسه نه دي توانېدلي څو له هېواده د باندې له بهرنیو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره اړیکې ټینګې کړي، خو هڅه کوي چې په نږدې راتلونکې کې خپلې دغې موخې ته ورسېږي او د نړۍ له معتبرو پوهنتونونو سره علمي اړیکې جوړې کړي.

ښاغلي راسخ وویل، لکه څرنګه چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسې او پوهنتونونه باید خپلو فارغو محصلینو ته د اسنادو د ورکړې او د کیفیت د تضمین پروسه بشپړه کړي، چې له دې ډلې په کابل ښار کې ځینې خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو خصوصي موسسې پر دې توانېدلې څو دغه چاره تر سره کړي، له همدې امله ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې تر دې دمه خپلو فارغو محصلینو ته ترانسکرېپټونه او سرټیفیکېټونه ورکړې دي څو له حقوقو او امتیازاتو یې ګټه واخلي.

ښاغلي شاه ولي راسخ زیاته کړه، ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د علمي سويې د لوړاوي په موخه ډېر امکانات په واک کې لري، لکه تجربه لرونکي علمي کدرونه، مجهز کتابتون، مالوماتي ټکنالوژي یا IT، څېړنیز مرکزونه او داسې نور. د نوموړي په خبره، دوی په پام کې لري څو تر راتلونکو نهو میاشتو یا یو کال پورې د ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې لپاره د کابل ښار په یوه معتبره سیمه کې دایمي ودانۍ ولري او هلته به د خپلو محصلینو لپاره لا ډېر امکانات وړاندې کړي.

ښاغلي راسخ همدا راز زیاته کړه، دوی د ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې د پرمختګ لپاره په راتلونکي کې یو بشپړ او هر اړخیز ستراتیژیک پلان لري، چې په دریو لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله مرحلو کې ترتیب شوي او په راتلونکو کلونو کې به یې د پوهنتون د لا پرمختګ او بډاینې په موخه پلي کړي.

د ابو ریحان د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي یاد استاد او د تضمین کیفیت کمېټې مشر شاه ولي راسخ زیاته کړه، دوی د نورو پوهنتونونو او د لوړو زده کړو خصوصي موسسو په څېر له دولت او په ځانګړې توګه له لوړو زده کړو وزارت څخه خپلې ځانګړې غوښتنې لري. د نوموړي په وینا، له دولت څخه یې یوه عمومي غوښتنه په هېواد کې د تلپاتې سولې او امن ټینګښت دی چې د ټولنې هر وګړی او هره اداره ورته اړتیا لري. نوموړي زیاته کړه، دا چې زموږ هېوادوال په افغانستان کې د پانګونې لپاره زړه ښه کوي، په اصل کې دوی د هېواد او دولت ملاتړ کوي، نو ځکه تلپاتې امنیت په هېواد کې د لا ډېر پرمختګ او پانګونې لپاره زمینه برابروي. نوموړي همدارنګه له لوړو زده کړو وزارت څخه د هغوی له تلپاتې مرستې او نېکو تجربو څخه مننه وکړه او د یادې لړۍ د دوام هیله یې ترې کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷،۷۰ |
| € | ۹۲،٤۰ |
| Rp. | ٤۸۸ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱،۳۰ |
| £ | ۱۰٦،۳۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# طرز تهیه ۷ نوشیدنی پروتئینی برای تقویت سیستم ایمنی بدن

احمد فردوسی

رژیم و تغذیه نوشیدنی یا شیک‌های پروتئین درواقع یک اسموتی سرشار از پروتئین هستند که معمولاً قبل و بعد از تمرین ورزشکاران نوشیده می‌شوند تا به روند بازسازی عضلات و ایجاد بافت عضلانی جدید کمک کنند.

اهل ورزش باشید یا نه، احتمالاً با شیک یا نوشیدنی پروتئینی آشنا هستید؛ همان نوشیدنی‌های گاهی بدبو و بدمزه‌ای که در لیوان‌های بلند، قاتی وسایل ورزش‌کاران و بدن‌سازان پیدا می‌شود. این نوشیدنی‌ها به‌دلیل داشتن پروتئین زیاد حتی می‌توانند جایگزین یک وعده غذایی هم بشوند. پروتئین‌ها در کنار تأمین انرژی وظایف دیگری از جمله ساخت عضله، تأمین آمینواسیدهای حیاتی، انتقال پیام بین سلول‌ها و مهم‌تر از همه حفظ سلامتی سیستم ایمنی بدن را بر عهده دارند. نوشیدنی‌های پروتئینی سالم انتخاب خوبی برای تأمین انرژی و پروتئین موردنیاز بدن‌اند. در ادامه، طرز آماده‌سازی ۷ نوشیدنی پروتئینی سالم، مقوی و خانگی را که خیلی سریع آماده می‌شوند باهم مرور می‌کنیم.

**نوشیدنی پروتئینی چیست؟**

شیک یا نوشیدنی پروتئینی در واقع یک اسموتی سرشار از پروتئین است که ورزش‌کاران معمولاً قبل و بعد از تمرین آن را می‌نوشند تا به روند عضله‌سازی کمک کنند. این نوشیدنی‌ها ممکن است فقط ترکیبی از پودر آماده و آب باشند؛ گرچه استفاده از ترکیبات سالم و تازهٔ خانگی انتخاب بهتری است.

سالم‌ترین نوشیدنی پروتئینی (به‌خصوص در دوران کنونی همه‌گیری ویروس کووید-۱۹) همانی است که خودتان در خانه با مخلوط‌کن درست می کنید .

شیک یا نوشیدنی‌های پروتئینی یک وعده غذایی سالم، سریع و خوشمزه هستند .

دلیل این امر هم ساده است: وقتی خودتان نوشیدنی‌تان را درست می‌کنید، به‌خوبی از محتویات آن و کیفیت مواد به‌کاررفته آگاه هستید. نوشیدنی‌های پروتئینی خانگی معمولاً با استفاده از میوه‌های یخزده، یخ و البته یک منبع غنی پروتئین مثل پودر پروتئین و یک مایع دلخواه از جمله آب یا شیر درست می‌شوند.

نوشیدنی‌های پروتئینی به بدن کمک می‌کنند پس از یک جلسهٔ سخت تمرین، بهتر و سریع‌تر عضلات خود را بازیابی کنید. به‌علاوه، می‌توانید از این نوشیدنی‌ها به‌عنوان جایگزین فوری وعده غذایی یا میان‌وعده نیز استفاده کنید. مصرف این نوشیدنی‌ها قبل یا بعد از تمرین به خودتان بستگی دارد؛ با وجود توصیهٔ بیشتر متخصصان بر نوشیدن آنها پس از پایان تمرین، بنا بر تحقیقات انجام‌شده، نوشیدن آن پیش از تمرین نیز همان‌قدر سودمند است.

مهم‌ترین عنصر تشکیل‌دهنده هر نوشیدنی پروتئینی همان‌طور که احتمالاً تا الان حدس زده‌اید پروتئین است. این پروتئین را می‌توانید از منابع مختلفی تهیه کنید. در نتیجه، افرادی که از رژیم‌های گیاه‌خواری، بدون گلوتن، پالئو و کتو پیروی می‌کنند، نیز می‌توانند از نوشیدنی‌های پروتئینی سازگار با برنامه غذایی خود استفاده کنند. البته این منابع جایگزین پروتئین در کشور ما چندان رایج نیستند؛ اما همیشه می‌توانید با کمی جست‌وجو یا مشاوره با متخصص تغذیه از جایگزین‌های بومی آنها استفاده کنید.

نکته دیگری که باید بدانید، مقدار دقیق پروتئینی است که در هر نوشیدنی می‌ریزید. در واقع، باید بدانید محتوای پروتئین نوشیدنی شما دقیقاً چند گرم است تا بتوانید محتویات را به نسبت مناسب در آن بریزید. در ادامه، برخی از مهم‌ترین و دردسترس‌ترین منابع پروتئین به‌همراه مقدار پروتئین در هر وعده از آنها را معرفی می‌کنیم تا بهتر بتوانید برای نوشیدنی خود تصمیم بگیرید.

**پودر پروتئین**

ساده‌ترین راه برای تأمین پروتئین موردنیاز برای نوشیدنی شما، خریداری پودرهای پروتئین آماده است. این پودرها (یا حداقل تولیدات سازندگان معتبر) حاوی میزان مشخصی از پروتئین به‌ازای وزن خود هستند و این کار محاسبه را برای شما آسان می‌کند. این پودرها با طعم‌ها و افزودنی‌های متنوعی تولید می‌شوند؛ پس با کمی گشتن می‌توانید پودر پروتئینی را که هم با ذائقه‌تان سازگار باشد و هم نیاز بدنتان را تأمین کند پیدا کنید.

نکته‌ای که باید خیلی روی آن تأکید کنیم تهیه پودر پروتئین و به‌طور کلی مکمل‌های از فروشندگان معتبر مثل داروخانه‌ها یا فروشگاه‌های رسمی فروش مکمل است. هرگز این نوع مکمل‌ها را از غریبه‌ها، فروشندگان غیرمجاز یا فروشندگان ناشناس در فضای اینترنت تهیه نکنید.

رایج‌ترین انواع پودر پروتئین عبارت‌اند از: گیاه‌پایه، تهیه‌شده از مایه پنیر (وی) یا کلاژن. پودرهای پروتئین در هر پیمانه که حدود ۲۴ گرام وزن دارد بین ۲۲ تا ۲٦ گرام پروتئین به شما می‌دهند؛ هرچند در محصولات مختلف، جزئیات ممکن است تفاوت داشته باشد. با مراجعه به برچسب اطلاعات تغذیه‌ای روی بسته‌بندی پودر می‌توانید مقدار دقیق محتوای پروتئین را به‌ازای هر پیمانه پیدا کنید.

آجیل‌ها و کره‌های آن‌ها از بهترین منابع پروتئین هستند که علاوه بر فواید بسیار، طعم خوبی هم به نوشیدنی شما می دهند.

آجیل‌ها و کره‌های آنها (شامل کره بادام زمینی و کره بادام درختی) از جمله بهترین منابع پروتئین هستند که علاوه بر فواید بسیار، طعم خوبی هم به نوشیدنی شما می‌دهند. آجیل‌ها و کره‌های آنها نه‌تنها پروتئین بالایی دارند، بلکه سرشار از فیبر و چربی‌های مفید از جمله امگا ۳ هستند. به همین دلیل نیز استفاده از آنها به‌عنوان سس یا طعم‌دهنده در نوشیدنی آنها را سالم و خوشمزه می‌کند، که ترکیب چندان رایجی نیست.

**دانه‌های روغنی**

دانه‌های روغنی از غنی‌ترین منابع پروتئین، فیبر، آنتی‌اکسیدان‌ها و انواع ویتامین محسوب می‌شوند.

دانه‌های روغنی مثل تخمه آفتابگردان یا تخم کدو هم از آن دسته اَبَرخوراکی‌های سالم‌اند که باید در رژیم غذایی همه از ورزش‌کار تا غیرورزش‌کار سهم ثابتی داشته باشند. دانه‌های روغنی یکی از منابع غنی پروتئین، فیبر، آنتی اکسیدان و انواع ویتامین ها هستند که چه به‌عنوان تزیین و چه به‌عنوان یکی از محتویات نوشیدنی انتخابی بسیار معقولی هستند.

**میوه/ سبزیجات**

میوه‌های یخزده پایه مناسبی برای اکثر نوشیدنی‌های پروتئینی هستند، چون هم طعم و مزه قوی‌ای دارند و هم بخشی از آب موردنیاز را تامین می‌کنند.

میوه‌های یخزده پایه مناسبی برای اکثر نوشیدنی‌های پروتئینی‌اند، چون هم طعم و مزه دل‌پذیری دارند و هم بخشی از آب موردنیاز بدن را تأمین می‌کنند. در ادامه، میوه‌ها و سبزیجاتی را که بیشترین پروتئین را دارند باهم مرور می‌کنیم.

حبوبات هم مثل آجیل و دانه‌های روغنی منابع خوبی برای تامین پروتئین، فیبر و آنتی‌اکسیدان‌های لازم برای بدن هستند .

در نهایت، نوبت به افزودنی‌های نه‌چندان معمول، اما کماکان سرشار از پروتئین و مواد مغذی می‌رسد. گزینه اول ماست یونانی است که در هر فنجان حدود ۲۲ گرام پروتئین دارد و از این نظر با پودرهای پروتئین برابری می‌کند. به‌علاوه، افزودن آن به نوشیدنی بافتی خامه‌ای و لطیف خواهد داد.

در نهایت، باید به حبوبات از جمله لوبیاچیتی و عدس اشاره کنیم که به‌ترتیب با داشتن ۱۴ و ۱۸ گرام پروتئین در هر فنجان گزینه‌ای مناسب برای افزودن به نوشیدنی شما محسوب می شوند .

**چطورنوشیدنی‌پروتئینی‌درست‌کنیم؟**

تهیه نوشیدنی پروتئینی بیشتر به‌معنی مخلوط کردن مواد اولیه آن است و نباید بیشتر از چند دقیقه از وقت شما را بگیرد. تهیه نوشیدنی پروتئینی نمی‌تواند و نباید بیشتر از چند دقیقه وقت شما را بگیرد. به خاطر داشته باشید که بهتر است این نوع نوشیدنی‌ها بلافاصله پس از تهیه مصرف شوند؛ به‌خصوص اگر از مواد افزودنی طبیعی در آنها استفاده شده باشد. همان طور که گفتیم، منابع پروتئین بسیار متنوع‌اند و شما می‌توانید بسته به امکانات یا سلیقه خود، از انواع گوناگون افزودنی‌ها استفاده کنید.

برای زیرسازی می‌توانید از یک فنجان یخ یا میوه یخزده استفاده کنید. پایه پیشنهادی ما موز یخزده است؛ اما میوه‌هایی مثل تمشک، توت فرنگی و آلبالو هم گزینه‌های خوبی‌اند (هرچه را انتخاب کردید ته مخلوط‌کن بریزید).

حالا نوبت افزودن منبع یا منابع پروتئین است. بهتر است در هر نوشیدنی از چندین منبع مختلف استفاده کنید؛ برای مثال، یک پیمانه پودر پروتئین به‌اضافه یک قاشق چای‌خوری تخمه آفتاب‌گردان به‌اضافه یک قاشق چای‌خوری کره بادام‌زمینی.

در این مرحله باید انتخاب کنید که اصلاً می‌خواهید از شیرین‌کننده استفاده کنید یا نه. بسته به میزان شیرینی پودر پروتئین مصرفی یا پایه میوه یخ‌زده‌ای که استفاده کرده‌اید، ممکن است اصلاً لازم نباشد از شیرین‌کننده استفاده کنید. مسلماً استفاده از شیرین‌کننده‌های قندی یا مصنوعی به‌هیچ‌عنوان توصیه نمی‌شود و اگر لازم است با کمی شیرینی نوشیدنی‌تان را خوش‌طعم کنید، از گزینه‌های طبیعی مثل عسل، شیرهٔ انگور یا خرما استفاده کنید .

نکته اصلی در افزودن حلال یا مایع اصلی نوشیدنی شما، افزودن تدریجی آن است. بهتر است کار را با ریختن یک‌سوم یا نصف فنجان شروع کنید و سپس بنا بر نیاز به افزودن مایع ادامه دهید. هیچ‌چیز بدتر از شیکی که زیادی شل شده باشد نیست؛ پس شیر، شیرکاکائو یا هر مایع دیگر را محافظه‌کارانه بیفزایید.

## ملګري ملتونه: هدفي وژنې د جدي اندېښنې وړ دي، ژر تر ژره دې ودرول شي

د ملګرو ملتونو امنیت شورا په افغانستان کې د هدفي وژنو د بندېدو غوښتنه کړې ده. یادې شورا په یوې اعلامیې کې ویلي، چې په دغو بې رحمانه بریدونو کې د ښځو په ګډون، ملکیان، د قضایي څانګې غړي، د رسنیو کارکوونکي، روغتیاپالان او د بشري حقونو مدافعان په نښه کېږي.

د امنیت شورا د دغو مخ پر زیاتېدونکو بریدونو په اړه خواشیني ښودلې، د سملاسي بندولو غوښتنه یې کړې او محکمې ته د عاملانو د کشولو غږ یې کړی دی.

که څه هم په ښکاره توګه د دغو بریدونو مسوولیت چا نه دی منلی، خو افغان حکومت او په کابل کې د امریکا سفارت بیا له دې وړاندې د دغو بریدونو پړه پر طالبانو اچولې ده. طالبانو بیا ویلي، دوی د ملکي کسانو، فعالانو او خبریالانو په وژنه کې لاس نه لري.



د امنیت شورا په اعلامیه کې ویل شوي، چې د ولسي خلکو قصدي وژل ښایي جنګي جنایت وبلل شي.

ملګرو ملتونو دغه راز ټینګار کړی، چې په افغانستان کې تلپاتې سوله د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو له لوري د هر اړخیزو خبرو له لارې راتلای شي. د یادونې ده چې د امریکا متحده ایالتونه، برېټانیا، روسیه، چین او فرانسه د امنیت د شورا دایمي غړي دي. هند او ځینې نور هېوادونه یې غیر دایمي غړي دي.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا داسې مهال په افغانستان کې په هدفي وژنو اندېښنه ښودلې، چې په تېرو څو میاشتو کې لسګونه خبریالان، ملکي مامورین، د بشري حقونو فعالان او نور بې ګناه کسان ترور شوي دي.

د دغو بریدونو تر ټولو تازه پېښه کې څو ورځې مخکې په جلال اباد ښار کې وسله والو د انعکاس ټلوېزیون درې ښځینه کارکوونکې ووژلې او دوه نورې یې ټپیانې کړې. داعش وسله والې ډلې د دغو بریدونو مسوولیت ومانه.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲۴مه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۱۴مه | ۶۹۵یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱٦ | ۲۱ | ۲۳ | ۲۰ | ۲۵ |
| ۳ | ۷ | ۸ | ۸ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۳ | لمر ختل ۰٦:۰٦ | ماسپښین ۱۲:۰۳ | مازیګر ۰٤:۱۸ | ماښام ۰٦:۰۰ | ماخوستن ۰۷:۱۹

## نړۍ





## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوه میلیونه او ٦٥۳ زره کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۹ میلیونه او ۷۵۲ زره او ۱۰۵ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ٦۵۳ زره او ۹۷۰ کسان مړه شوي او له ۹٦ میلیونو ډېر تري ببرته رغبدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۹ میلیونه او ۹۹۳ زره او ۴۲۳ ته رسېدلي او ۵۴۵ زره او ۵۴۴ نور امریکایان تري مړه شوي دي.
دغه راز برازیل د ۱۱ میلیونه او ۳٦۸ زره او ۳۱٦ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د ۱۱ میلیونه او ۳۵۰ زره او ۸۹۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د څلور میلیونه او ۳۸۰ زره او ۵۲۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د څلور میلیونه او ۲۴۸ زره او ۲۸٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.
فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## سلیوان: ایران ته مو دریځ واضېح کړی، نړیوالو قوانینو ته دې درناوی وکړي




امریکا وایي چې د ایران غوږونو ته یې خپل پیغام رسولی دی، خو تر اوسه یې د دغه هېواد ځواب نه دی ترلاسه کړی.
د امریکا د ملي امنیت شورا سلاکار جک سلیوان وایي، د اروپایي شریکانو له لارې یې ایران ته د امریکا دریځ روښانه کړی او دغه هېواد ته یې واضېح کړې چې باید نړیوالو قوانینو ته درناوی وکړي.
جک سلیوان همدا راز ټینګار کوي چې له ایران سره د اټومي ستونزې د حل په لټه کې دي، خو بندیزونه به لرې نه کړي.
جک سلیوان دا هم وایي چې امریکا خپلې موخې تعقیبوي او ژر به د ایران د ځینو غیر قانوني کړنو پر وړاندې اقدام وشي.
دا په داسې حال کې ده چې امریکا او ایران ترمنځ د ۲۰۱۵ز کال د اټومي تړون پر سر یوځل بیا ناندرۍ ډېرې شوې دي.
امریکا له ایرانه غوښتي، ترڅو د شوي تړون په تړاو ورسره نوې خبرې پیل کړي، خو ایران بیا ټینګار کوي، که امریکا غواړي چې د ایران او نړیوالې ټولنې ترمنځ له شوي تړون سره بېرته یوځای شي، پر تهران دې لګول شوي بندیزونه لرې کړي.
ایران دغه راز وایي، چې د اټومي تړون په تړاو به له هېچا سره نوې خبرې ونه کړي، بلکې ټول لوري دې پخوانیو ژمنو ته راوګرځي.

## پیمان: اوضاع مبهم سیاسی کنونی، بسیاری از سرمایه‌گذاران را از کارکردن در افغانستان دل‌سرد ساخته‌است



فدراسیون اتاق‌های افغانستان با نگرانی از فرار روز افزون سرمایه‌ها از کشور می‌گوید در یک سال اخیر شماری از سرمایه‌گذاران، سرمایه‌های‌شان را به ترکیه، امارات متحدهٔ عرب و ازبیکستان انتقال داده‌اند. سخی احمد پیمان، معاون این فدراسیون می‌گوید که در کنار ناامنی‌ها و نبود امکانات سرمایه‌گذاری در کشور، اوضاع مبهم سیاسی کنونی، بسیاری از سرمایه‌گذاران را از کارکردن در افغانستان دل‌سرد ساخته‌است.
او در این باره افزود: «بیشترین سرمایه‌ها به ترکیه، امارات متحدهٔ عرب و ازبیکستان فرارکردند؛ چون سرمایه‌گذاران می‌دانند که اوضاع برای کار کردن برابر نیست.»
چهار سال پیش، کارخانهٔ ذوب آهن «کاروان فولاد» در پارک‌های صنعتی پلچرخی با سرمایه‌گذاری بیش از بیست میلیون دالر آغاز به‌کار کرد و به‌گفتهٔ مسؤلان این کارخانه، در آن زمان بیش از صد کارمند و کارگر در این کارخانه کار می‌کردند، اما در یک سال اخیر این کارخانه ورشکست شده‌است.
عزیزالله، یکی از کارمندان این کارخانه گفت: «ما مشکلات زیادی داریم و تا کنون تحمل کردیم؛ چون برق نداریم، آهن آلات داغمه قیمت است و مشکلات هم بیشتر اکنون حتا دونفر در این کارخانه کار نمی‌کنند.»
اما وزارت صنعت و تجارت اکنون هم به افزایش سرمایه‌گذاری‌ها در کشور خوشبین است. فواد احمدی، سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت گفت: «امید وارد استیم که با پیشرفت‌ها در روند صلح سرمایه‌گذاری‌ها بیشتر شوند. ما همین اکنون با شماری از سرمایه‌گذاران در تماس استیم تا آنان را تشویق کنیم برای کارکردن در افغانستان.»

عزیزي بانک
Azizi Bank

### د ځوانو رهبرانو نړیواله ټولنه کې
### د عزیزي بانک د اجرايوي رییس ډاکټر محمد سالم امید شاملیدل



عزیزي بانک په خورا خوښۍ تاسو ته خبر درکوي چې ډاکټر محمد سالم امید په 2021 کال کې د ځوانو رهبرانو نړیواله ټولنه (Young Global Leader Forum) کې شامل شوی دی چې د نړیوالې اقتصادي ټولنې (World Economic Forum) لخوا اداره کیږي.دغه غړیتوب هغه ته د افغانستان لپاره د خدمتونو او ژمنتیا او د پوهنیزو او زده کړه ایزو اسنادو پراخه بیاکتنې او څارنې او د نړیوال اقتصادي ټولنې سره د مرکو او همکاریو وروسته ورکړل شوی دی.
د ځوانو رهبرانو نړیواله ټولنه (Young Global Leader Forum) د لوړ تجربه لرونکي پلاوي لخوا رهبري کیږي چې د دوی نظرونه او افکار د ټولنې بریا او پرمختګ په برخه کې مرسته کوي. د ځوانو رهبرانو نړیواله ټولنه (Young Global Leader Forum) د عامه - خصوصي همکاریو د نویو ماډلونو له لارې نړیوالو ننګونو او ستونزو ته حل لارې پیدا کوي. دوی په سکټورونو ، سیمو او بیلابیلو باورونو تر منځ د پلونو رول لوبوي ترڅو ټولنې له وېشنو(تجزیو) وژغوري. همدا راز دوی به د زده کړو په برخه کې د پانګونې له لارې نویو رهبرانو ته د نړۍ او بشریت پرمخ پرتو ستونزو ژور درک او پوهه ورکړي. دغه ټولنه نړیوال شخصیتونه لکه سناتوران ، وزیران، لوړ پوړي دولتي چارواکي، د لوبو برخې اتلان، د بالیووډ نوموتې څېرې او د نړیوالو شرکتونو مشرتابه غړیتوب لري.ډاکټر محمد سالم امید به د راتلونکو پنځه (5) کلونو لپاره د نړۍ د مشرانو پلاوي سره په ګډه کار کوي ترڅو د نړۍ بیلابیلو ستونزو او ننګونو لپاره په پلان جوړونه او د یادو پلانونو او ستراتېژیو په پلي کولو کې مرسته وکړي
د دغې سترې لاسته راوړنې او وياړ په پار د افغانستان غیور ملت او ښاغلي ډاکټر محمد سالم امید ته د زړه له کومې مبارکي وایو او په راتلونکي کې ورته د لابریاوو هیله څرګندوو




د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالی ګڼل کیږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډېبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank